ډېر ځله ببر سړی او خړپړ چې خلک يې پر خپلو دروازو کې هم نه پرېږدي، که په الله قسم وکړي، نو الله به يې بري کړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله فرمايلي: «ډېر ځله ببر سړی او خړپړ چې خلک يې پر خپلو دروازو کې هم نه پرېږدي، که په الله قسم وکړي، نو الله به يې بري کړي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې داسې خلک شته چې د خړوپړو وېښتانو له امله چې نه يې غوړوي او نه يې ډېر وينځي، د خلکو په منځ کې هېڅ ارزښت نلري او له خپلو دروازو يې شړي او سپکاوی يې کوي، مګر، که دوی په يو څه قسم وکړي چې پېښ به شي، نو الله تعالی به يې د دوی د درناوي په موخه پېښ کړي او د دوی سوال به قبول کړي، او پرې به نږدي چې دوی د قسم ماتېدو له امله حانث شي، دا ځکه چې دوی د الله تعالی پر وړاندې فضيلت او مرتبه لري.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3715